# الله تعالی ورته پرې جنت واجب کړ او یا دا چې له اور څخه یې پرې خلاصه کړه

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: يوه غريبه ښځه زما خوا ته راغله چې خپلې دوه لوڼې يې له ځان سره راوستې وې، نو ما درې خرماوې ورکړې، هغې هرې يوې ته يوه يوه خرما ورکړه او دريمه خرما يې خولې ته پورته کړه چې ويې خوري، نو دوو لوڼو يې ترې وغوښته، نو هغې هغه خرما چې غوښتل يې خپله يې وخوري د هغوی ترمنځ ووېشله، نو زه د هغې دې عمل ته حېرانه شوم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مې د هغې کېسه وکړه، نو هغه وفرمایل: «الله تعالی ورته پرې جنت واجب کړ او يا دا چې له اور څخه يې پرې خلاصه کړه».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وايي چې يوې غريبې ښځې خپلې دوه لورګانې له ځان سره راوستې او له هغې يې سوال وکړ، نو هغې درې خرماوې ورکړې، ښځې هرې لور ته يوه خرما ورکړه او يوه يې خپلې خولې ته پورته کړه چې ويې خوري، خو لورګانو يې ترې هغه هم وغوښته چې غوښتل يې خپله يې وخوري، نو د هغوی دواړو تر منځه يې دوه نيمه کړه، عائشه رضي الله عنها د ښځې د دې حالت په ليدو حيرانه شوه او د هغې کيسه يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وکړه، نو هغه وفرمایل: يقينا چې الله تعالی ورته په هغې خرما سره جنت واجب کړ، او يا دا چې له اور څخه يې پرې ازاده کړه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3133